احسان‌الله ارینزی

۲۰۲۵/۱۰/۰۵

# ارمان

## (لنډه‌کیسه)

د شپې درنه واوره ورېدلې وه. د طبیعت سهارنی ننداره ښکلې او په زړه پورې وه. د کال لمرنی واورې ځمکې، کلاوو، لارو او ونو ته سپینې جامې وراغوستې وې.
د کلي ډنګر ښوونکي په منډ کې تېر شوي پلونه ورو- ورو تعقیبول. تر ښوونځي پورې ډېره لار پاتې وه. ښوونکي زاړه بوټ، خیرن وړین پتلون او تور اوږد بالاپوش اغوستی و، ویښتان یې په ټوپۍ کې پټ کړي او لاس په جیبونو کې ننه ایستلی وو.
هوا ډېره سړه وه. د باد څپو واوره پورته کوله او هغه یې د ښوونکي په سر او مخ پاشله. دا ناڅاپي یخنی په ځوان ښوونکي باندې، چې د تودو سیمو سړی و، ښه نه لګېده؛ خو د ماشومانو د لوست دا اخري روځې یې هم نه شوای هېرولی. دی په دې سوچ کې و چې څو روځې وروسته به خپل تاوده وطن ته ځي او څو میاشتې به دا ښوونځي او دا زده کوونکي نه ویني.
کله چې ښوونځی ښکاره شو، ښوونکي شا ته وکتل او د کږلیچني لارې په واورو کې خپلو پلونو ته ځېر شو. د ښوونځي په لېدو یې د تګ تلوسه ډېره شوه اوخپل ګامونه یې چټک کړل.
دا ښوونکي دوه کاله د مخه دلته راغلی و. د شا اوخوا کلیو ډېرو خلکو پېژاند او د ده نوم یې په ښه خوله یاداوه. په خلکو ګران و او ډېرو به ویل:
- دا پردیسی خورا ښه سړی دی.
ښوونکي د خلکو په ښادي ښاد او په غم غمجن و. د کلي ناروغ د ده خپل ناروغ و. د ولسوالی له روغتون څخه به یې راز- راز ګولی راوړې او په کلیوالو ویشلې. د ښوونځي زده کوونکي د سترګو د کسیو په شان پرې ګران وو او ان په پوله پټي به یې د دوی مخې ته کتاب پرانستی و.
د جومات په مخه کې ښوونکي د کلي کوچني هټۍ ته ورغی. هټیوال سمندر اکا له روغبړ وروسته پوښتنه وکړه.
-مسافره هغه زما زوی نجیب په درسونو کې څنګه دی؟
ښوونکي په داسې حال کې چې خپله ټوپۍ څنډله، په خوږه ژبه ځواب ورکړ:
- ښه دی او لا ښه کېږي. لږ تودې جامې ورپیدا کړه.
سمندر اکا د خپلې هټۍ مالونو ته ځیر شو: لږ توت، مالګه، ګوګړ، د خاورو تیل، ګوره، د سر د خوږو ګولۍ...
بیا یې ښوونکي ته وکتل او وېې ویل:
- زه هم دا هڅه کوم؛ خو یوه مې نه دوه کېږي.
ښوونکي په داسې حال کې چې له هټۍ څخه د وتلو په حال و، سمندر اکا ته وویل:
- خیر. خدای مهربانه دی، اوس خدای پامان.
اوس نو ښوونځی ډېر نږدې و. ځینو زده کوونکو د ښوونځي د بام واوره توږله. ښوونکي د ملك حسین کلا ته ورسېد، د کلا د دروازې په مخه کې یو سړی ولاړ و. ښوونکي اریانه شو چې دا بیوزلی په دې شنه سهار کې د څه کار له پاره دلته کرغېچ ولاړ دی؛ خو چې لږ ورنږدې شو د ملك حسین مزدور زرجان یې وپېژنده.
- هلکه زرجانه په دې سړو کې څنګه وچ کلك ولاړ یې؟ سلامالیکم .
زرجان خپل لاس د روغبړ له پاره اوږد کړ او وې ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- په خیر اوسي عزیزه، تا ته ولاړ یم. ملك پرون شپه ما ته ویلي و چې ته يي په کار یې. اوس ساړه و، ما ویل راځه همدلته ورته تم شه. مسافر هرو مرو په همدې لار تېرېږي، خبر به يې کړې.
ښوونکي د ده خبره پرې کړه:
- زرجان اشنا ملك به څه وایي؟
هغه ورو وخندل، شا وخوا یې وکتل او وې ویل:
- ته په خپله ښه پوهېږې چې هغه له موږ سره د زړه خواله نه لري، یوازې همدومره وايي دا کار وکئ او هابل مه کوئ. موږ يې ولا که یا په کړو پوهیږو یا په نه کړو!
ښوونکي سر وخوځاوه:
- هو! پوهیږم ... پوهیږم.
او زیاته یې کړه :
- ملك ته به زما سلامونه ورسوې او ورته وبه وایې، چې نن تر غرمې پورې په ښوونځي کې بند یم، بیا ځم بر کلي ته چې پرون خان هم څوك استولي و.
مزدور په بېړه وویل:
- نه ... نه چې خان غوښتی يي، همدلته به ځي، خير دی ملك به بیا سبا وګوري.
ښوونکي خپلي ګړی ته وکتل او وې ویل:
- نه پوهېږم څنګه په یو وخت کې دواړو ته په یاد شوم؟
مزدور بیا وخندل او وېې ویل:
- تالیمن سړی یې مسافره، په غوړو کاسو دې سر دی!
ښوونکي په ځیر ورته وکتل.
- په زرجانه... د ازموینې وخت دی. ښه زه لاړم، ستړی یم او زده نکووکي به راته په تمه وي.
او د حجرې له مخې تېر شو.
په ښوونځي کې ځینو هلکانو واورې تورلې او ځینو په کړکیو باندې اخباري پاڼي نښلولې. ښوونکي په یوه کوټه ننوت. زده کوونکي ودرېدل.
-سلام کئ.
ښوونکي ځواب ورکړ.
- جوړ اوسي بچیانو. کیني.
دا شپږم ټولګی و او نژدې دیرش کسان پکې ناست وو. لومړی څو شیبې په پوښتنو ګرېږونو تېرې شوې. بیا ښوونکي وویل:
- نن په دې سړه هوا کې ستاسو د لوست وروستی تکرار دی. موږ او تاسي به د کلمو او جملو په ارتباط وګږیږو او ځان به ازموینې ته چمتو کړو.
دا وخت ښوونکي ولیدل چې یو زده کوونکی د باندې ګوري او داسې تروره ښکاري، دا زده کوونکی سورګل د عجب خان بزګر زوی و.
- سور ګله چېرته یې؟ خپل کتاب ته ګوره.
زده کوونکي له کړکی نه مخ واړاوه او وېې ویل:
- ښه ده. په سترګو.
ښوونکي وویل:
- کلمه هغه لفظ دی چې مانا ولري لکه... مثالونه یې تاسو ووایې.
د زده کوونکو غږونه جګ شول.
- ښوونځی، ښوونکي، تخته...
- واوره، کلی، ژرنده...
- اس، ملك، پاچا...
ښوونکي وویل:
- بس، بس. پوه شوئ. افرین.
ښوونکي بیا ولیدل چې سورګل د باندې ګوري او خپلې شونډې په غاښونو چیچي.
- سورګله پاڅه یو مثال ورکړه:
- خان ... هو خان!
- شاباس او اوس به راشو د جملې تعریف ته .
جمله هغه یوه یا څو کلیمې دې چې واحده مانا ولري. لکه نجیب کندهار ته تللی دی او نور مثالونه تاسي ورکړئ.
- پرون شپه واوره وورېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- ژوند په اوبو ولاړ دی.
- تېره ورځ د ګلداد ورور مړ شو.
ښوونکی خوشاله شو.
- افرین... افرین... شاباس.
او زیاته یې کړه:
- سورګله لکه چې بې خوبه يې؟ ما ته وېده ښکاري.
زده کوونکي ځان وخوځا وه:
- نه، نه ... ویښ یم!
ښوونکی لږ جدي شو.
- خی ما څه ویل؟
زده کوونکي وبېرېد او ژبه يي بنده شوه:
- تاسو ... صیب... تاسو... زما د پلار په هکله خبري کولې.
ځینو زده کونکو وخندل؛ خو ښوونکی په غوسه نه شو، هغه یې په درس وپوهولو او بیا یې مثال ترې وغوښت. زده کوونکي شا و خوا وکتل او په بېړه یې وویل:
- نن خان زما پلار وهي.
- یوه بلا جمله.
- خان ډېر زورور سړی دی!
ښوونکی پوه شو چې د سورګل په زړه کې څه خبرې شته او فکر یې وکړ چې وروسته به یې ګوري او له هغه سره به ګړیږي.
داسي ښکارېده چې دا د سورګل د زړه خبري وي. لکه یو پټ راز چې نور یې په زړه کې نه شوای ساتلی. ښوونکی د هغه لمړنی جمله تکرار کړه او پر تخته يي ولیکه:
--نن خان زما پلار وهي!
سورګل دا کرښه ولوسته.
- نن خان زما پلار وهي.
او تر شونډو لاندې یې وویل:
- اوس به یې وهلی وي.
له ښوونکي څخه د درس سلسله وشلېده. د سورګل خبرو او د ده ګډوډ رواني حالت خواشینی کړ. سورګل درواغجن زده کوونکی نه و او ښوونکي په دې ښه پوهېده چې خان ته د خلکو وهل، ډبول یو عادي کار و...
کله چې درس پای ته ورسېد، ښوونکي نور هلکان له ټولګي نه ویستل او له سورګل سره یوازې پاتې شو. ټولګی ډېر سوړ و. ښوونکی سورګل ته نژدې شو.
- سورګله ! ولې غمجن يې؟
- صیب غمجن نه یم.
ښوونکي د هغه په تندي لاس راښکود.
- نه سورګله بچیه. هم ناوخته راغلي او هم خپه غوندې ښکارې.
- نه پوهیږم صیب نن په شنه سهار له کوره راوتلی یم.
ښوونکی اریان شو.
- عجیبه ده؟ له کوره په شنه سهار راووتي او دلته هم نا وخته ورسېدې. ربښتیا ولي د وخته راوتلی وې؟
- بیرېدم صیب!
ښوونکي په ځېره ورته وکتل.
- ولې؟ ولې له چا نه بیرېدې؟
زده کوونکي شا اوخوا وکتل.
- له خان نه صیب ... له خانه .
د سورګل مخکنی جملې د ښوونکي په غوږونو کې انګازې جوړې کړې...
- نن خان زما پلار وهي ... خان ډېر زورور سړی دی... نن خان...
سور ګل ته ځیر شو او وې ویل:
- ولې؟ ولې له خان نه وبېرېدې؟ ستا یې په هغه څه؟
زده کوونکي ژر ځواب وکړ:
- زه هم نه پوهیږم چې زما یې په هغه څه؛ خو نه کیږي. پرون مې پلار له هغه سره څه جنجال کړی و. په حساب - مساب سره وران شوي وو. پلار مې ویل چې خان ګرم و. ده هم څه بد- رد ورته ویلي و... نه پوهیږم زما پلار به څه ویلي وي چې خان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

يې په غوسه کړی و. ماښام يې زما په پلار پسې څوك واستول چې دلته راشه او كه رانغلې، سبا وختي ځان ډېولو ته غوړ کړه. پلار مې ستومانه و، لږ ناروغه هم و  او سهار يې دا خبره وکړه چې اوس به د ظالم خان نفر رارسي. زه ډېر وبېرېدم. مور مې هم ډېره خواشيني وه. زه له وېرې ژر راووتم، هوا ډېره سړه وه، تر ډېره ځنډهٔ د جومات په حجره کې کيناستم او بيا د ښوونځي په لور وخوځېدم. زړه نا زړه دلته راغلم... اوس به مې پلار چېرته وي؟...

او له سترګو نه يې دوه درې څاڅکيه اوښکې وبهېدې. ښوونکي سورګل دلاسا کړ.

- نه خان ستا پلار نه وهي. ته چرت مه خرابوه.

بيا يې په جګه ورته وويل:

- ته خپل درس ته دوام ورکړه سورګله، شپه او ورځ كتابونه لوله، زده كړه او زده كړه چې اخر له دې تورتمه خلاص شې.

زده کوونکي لاسونه ومروړل او بيا يې همغه جمله تكرار كړه:

- نن خان زما پلار وهئ!... زه ويرېږم او کلي ته نه شم تلی.

او اوښکې يې وبهېدې.

- مه ژاړه سورګله. نارينه نه ژاړي، نارينه لارې لنډوي او منزل ته رسي...

د زده کوونکي ژړا لږ نوره هم ډېره شوه.

-  صيب څو ځلې نور يې هم وهلی دی. خان ډېر بد سړی دی، هر څوك وهي.

دا وخت د ښوونکي په خاطر كې تېرې كيسې ژوندۍ شوې او پوه نه شو چې ولې بيا هغه د ګنيو پټی د ده سترګو ته ځليږي او تتيرږي. خپلې سيمې ته لاړ او هغه روځ يې په ياد شوه چې د خان په امر د ګنيو څو ډنډې د ده پلار په وهلو ريښې- ريښې شوې. ده ته داسې بريښېده لکه چې هغه پيښه همدا پرون تېره شوې وې. ځان ور ياد شو چې څنګه تر خپل پلار چورلېد او په ماشومو لاسونو يې د خپل پلار له غوښو څخه د ګنيو د ډنډو مخه نېوله. ټول خولې - خولې شو او وريږدېد. سورګل يې په غېږ کې ونېوه، په سر يې ښکل کړ، اوښکې يې پا کې کړې او وېې ويل:

- ته مه په غوسه کېږه. زه هم نن ستاسو كلي ته ځم. خان غوښتی يم. ستا پلار به هم په پټه وګورم.

سورګل لږ ډاډه شو، خپلې اوښکې يې پاکې کړې او  غلی کيناست.

***

هغه لار چې له ښوونځي څخه بر كلي ته غځېدلې وه، ډېره كږليچنه وه. د لارې په دواړه خواوو كې لويې او كوچنۍ ونې ولاړې وې چې له څانګو څخه يې اوبه  څڅېدې.

ښوونکي او زده کوونکي دواړه غلی روان وو. ټوله ځمكه په واوره سپينه وه، د لمر وړانګې لور په لور خورې وې او هوا ورو- ورو تودېده. سورګل پوښتنه وكړه:

-  صيب ته له ليوه نه بيريږي؟

- ولې نه ! هغه ډېر بد ځناور دی؛ خو دلته نه شي راتلی.

- د ژمي په سړو شپو روځو کې راښکته کيږي. رښتيا تر دې کوچنۍ غونډۍ ها خوا زموږ كلی دی.

ښوونکي خپل سر وخوځاوه او وېې ويل:

- ما لېدلی دی. څو ځلې ستاسو کلي ته درغلی يم.

زده کوونکي ښوونکي ته وکتل.

- تر غونډۍ وروسته لومړی د خان لوی باغ دی.

- هو، هغه مې هم لېدلی دی.

د خان د نامه په يادولو سره سورګل  ټول وريږدېد او په دې سوچونو کې لاهو شو چې كه اوس راغلی وې او د ده پلار يې وهلی وي؛ نو اوس به څنګه ژوبل پروت وي او څه او څه ... بيا د ښوونکي خبرې ور په ياد شوې چې ويل به يې سورګله زده کړه مه پريږده، شپه او روځ کتابونه لوله چې له دې تورتمه خلاص شې. د خيال مرغان يې والوتل، ښوونځی يې خلاص کړ، د همدې ښوونکي په مرسته ليسې ته ولاړ، فکر يې وکړ چې غيږ يې په کتابونو ډکه ده او په خپل کلي کې د ښوونکي په توګه د ماشومانو مخې ته ولاړ دی او درس ورکوي. پاکې جامې يې اغوستې او زلمی شوی دی. د تنخوا په روپو د خپل مور پلار دارو درمل او خواړه برابروي.

د ښوونکي خبرو له دې ښکلې دنيا ګۍ نه رابهر کړ:

- سورګله! دا دې د خان باغ ته  ورسېدو. دا څومره لوی دی، سر او پای يې ما ته نه ښکاري.

او دواړه په باغ ګډ شول.

د باغ له بر سر څخه داسې ګنګړو- ګنګړو غږونه اورېدل کېدل. لكه چې څوك هلته په زوره- زوره ګړيږي او يا لكه د څو كسانو چې جګړه وي. ښوونكي زده كوونكي ته او زده كوونكي ښوونكي ته وكتل. دوی لا هم روان وو. هغه غږونه نور هم لوړ شول او د وهلو ټكولو غږ ترغوږه كېده.

-  صيب دا د خان باغ دی. تر دې چې  تېر شو زموږ کلی دی. رښتيا ته زموږ کور ته ځې او که د خان؟

ښوونکي خپلې شونډې په غاښوو وچيچلې او  هېڅ يې ونه ويل. هغه غږونه  اوس دلته رارسېدل.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

- دې هېڅ نه سړی کېږي ترمرګه يې ووهئ.
د سورګل رنګ تك سپين واوښت او ښوونکي ته نژدې شو.
- لکه چې زما پلار وهي؟!
ښوونکی هم غلی شو...
- دی اوس دومره سپين سترګي دی چې زما خبرې نه مني. وې وهئ- وې وهئ او دومره يې وډبوئ چې سر پورته نه کړي.
سورګل بيا هم وويل:
- لکه چې زما پلار وهي؟
شونډې يې وچې شوې او ژر- ژر يې ژبه پې راښکله.
اوس نو د متروکو غړونه ښه پوره رارسېدل.
- واخ... واخ...
سورګل ښوونکي ته ځير شو او په ما ته ګوډه ژبه يې وويل:
- هرومرو زما ... پلار...وهي؟
بيا د ونو له مينځ څخه د شور زوږ خوا ته ځير شو.
- هو زما پلار وهي!
زده کوونکي لاسونه ومروړل؛ خو وې نه ژړل.
دا وخت له متروکو سره دا خبرې هم اورېدل کېدې:
- توبه وباسه او ځوانيمرګه چې خان صيب دې وبښي...
- سړی شه! موږ دې په وهلو ستړي کړو...
او بيا هم کنځلي او د متروکو د وهلو اوازونه...
ښوونکی او زده کوونکی دواړه غلي ولاړ وو.
- وهل بس کړئ. اوس نو د توبې له ويلو پاتي شو. بيا به تر خپلې خولې غټې خبرې نه باسي.
ښوونکی او زده کوونکی لا هم غلي ولاړ وو او يو بل ته يې کتل. ناڅاپه سورګل په خپلو ګوتو غاښونه ونښلول او وې ويل:
- ډېر ارمان دی صيب!
ښوونکی ورته ځير شو. د سورګل رنګ تك سور اوښتی او په وچولي باندې يې د خولو دوه غټ څاڅکي له ورايه ځلېدل.
د سورګل په سترګو کې د اوښکو پر ځای قهر او غوسې غوپې وهلې.
ښوونکي په بېړه پوښتنه وکړه:
- د څه شي ارمان سورګله؟
سورګل په مصمم اواز ځواب ورکړ:
- د يو ټوپك معلم صيب، د يو ټوپك.
او د ښوونکي په ذهن کي د سورګل ټولو خبرو انګازې جوړې کړې: نن خان زما پلار وهي... يو ټوپك ... خان ډېرزورور سړی دی... يو ټوپك غواړم صيبه، يو ټوپک!

پای
۱۲/۷/۱۳۶۵
کندهار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ